رڼاګل اریوبزی ۲۰۱۸/۰۹/۰۶

# دسياسي ګوندونو او که د جنايي باندونو ملي لوی ائتلاف

دلته تر هرڅه دمخه دهيواد درنو ليکوالانو، پوهانو، ژورنالستانو او دقلم نورو خاوندانو پاملرنه دګل پاچا الفت لاندی شعرته راګرځوم. دی ليکي چې:

که رښتيا و يلی نشي کښينه غلی

دروغ مه وايه که ځان ګڼې ښاغلی

آس يې مه بوله، بوراق مه ورته وايه

بی لکی خره ته که خر نشي ويلی

زما په اند قاتل، غاصب، فاسد او لوټمارته دسياستوال لقب ورکول د بې لکی خره نه دبوراق جوړولو په مانا دی او دا کار په هيوادکي سولې، امنيت او پر مختګ ته هيڅ ګټه نه رسوي. دهغو ډلو ټپلو په هکله چې له دي ډول اشخاصو له خوا يې لار ښوونه کيږي دا پوښتنه هم رامنځ ته کيږي چې دا ګروپونه په رښتيا سياسي ګوندونه دي او که نه جنايي باندونه دي؟ حقيقت دادی چې دي باندونو په تيرو څلويښتو کلونوکي ونشو کړای چې پخپله، په خپل زور، عقل او شعور داسي ا يتلافي حکومت جوړ کړي چې لږ تر لږه شپږ مياشتې دوام وکړي. ټول عمر يې دقدرت، ولجو، غصب او غنيمت په سر په خپلمنځی جنګونو، وژلو ټکولو او دافغان ولس په ځپلو تيرکړ. ددي ټکی دسپيناوي له پاره غواړم چې د هيواد دوروستني پنځوس کلن تاريخ ځنې مهمو پيښو ته يوه لنډه کتنه وکړم.

د دی وخت تر ټولو غټه پيښه په افغانستان د پخواني شوروي اتحاد نظامي تيری و چې دبيساري ولسي مقاومت سره مخامخ شو. دخواشيني ځای دادی چی دا په هيواد او خپلواکی مين ولس دخپلواکی له پاره په مبارزه کي دا ځل په دي بريالی نشو چي په تير وخت کی دخپلو نيکونو په شان دخپل جهاد سياسي او نظامي مشرتابه له خپل منځ نه د سياسي او نظامي وړتيا له مخي په خپله وټاکی. علت دا و چی د قدرت تيری او د هيواد دلوړو ګټو سره مخالف عناصر آن دسردار محمد داود دجمهوريت په پيل کي او دهغه په خلاف سياسي موخو ته درسيدو له پاره د پا کستان د نظامي استخباراتو په سيمه کی ځانو ته ځالي جوړې کړې وې. د آی اس آی په لارښوونه او دهغه په پيسو او وسلو يې دولسمشر محمد داود په خلاف يو ناکام نظامی پاڅون هم پيل کړ. آی اس آی دوخت په اوږدو کي له دي اوه سرونونه اوه تنظيمونه جوړ کړل. د اشغالونکو هوايي او ځمکنيو بمباريو کلي او باندي له سره



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ورانولي، نو ځکه په ملیونه هیواد وال له کور اوکلي تیښتی ته مجبوریدل چې ډیره برخه یې پاکستان ته مهاجرکیدل او هلته به بیا د آی اس آی په زور د همدي تنظیمونو په جال کې راګیر کیدل. نو ځکه وایو چې دجهادي تنظیمونو لیډران افغاني مجاهدینو نه بلکې پاکستاني جنرالانو وټاکل او د هغوی ټول کړه وړه یې کنترولول. دروسانو دماتولواو دافغان ولس دوسلوال پا څون دملا تړ له پاره له بهر، په تیره بیاد امریکا په مشرۍ له غربی اوعربی نړۍ څخه، پریمانه پیسې او وسلې راسرشوې چې نیغ په نیغه دافغان مجاهدینو لاس ته نه رسیدې بلکی تردې وړاندې به دپاکستان دولتي چارواکو ته تسلیمیدې. په دې توګه دجهادي تنظیمونو دپیسو او وسلو سرچینه دپاکستان ددو لتي ارګانونو، تر ټولو دمخه دهغه هیواد دنظامي استخباراتو په لاس ورغله. آی اس آی دا واک درلود چې په چا څه او څومره لوروي اویا هیڅ نه ورکوي او له ځان سره یې ساتي. دتنظیمونو لیډران، چې له سره دایمان او ملي ارمان په ځای دقدرت، شتمنۍ او پیسو لیوالان وو، په بدل کې به یې هرهغه څه په ټیټ سر او پټو سترګو منل چې دهغه وخت د آی اس آی رئیس جنرال حمید ګل به ورته ویل.

په دې ډول یې دجهاد په نامه پیسې او وسلې ترلاسه کولې او دترلاسه شوو وسلو څخه یې ځنې په هغه وخت کې هم پلورلې او دستینګر راکټونو په رسوایۍ دنړۍ ټولې رسنۍ وغږیدلې. ستینګر په هغه وخت کې له ځمکې وهواته تر ټولو مډرن اوا غیزناک راکټونه وو.امریکایانو نه غوښتل چې دا راکټونه د امریکا ضد بهرنیو دولتونو اوسازمانونو په لاس ورشي، نوځکه تر دې وخت پورې دناټوسازمان له سیمې نه وو بهر شوي، خو داچې امریکا دروس په ماتولو کې دځان له پاره ډیري ګټي لیدلې نو تنظیمي لیډرانو ته یې وروسپارل چې دوی بیا پخپل وار له همدې راکټونو څخه ځني دوسلو په نړیوال تور بازار کې وپلورل او خپل امریکا یي انډیوالان یې پخپلو کړو یو څه پښیمانه کړل.

هلته د کور په دننه – افغانستان – کې هر څه چې په لاس ورتلل د« جهاد غنیمت» یې ګڼل. په دې نامه یې کورونه او عامه شتمنۍ لوټولې، تر دې چې دفابریکو ماشینونه یې پاکستان ته وړل او هلته یې پلورل. له بلې خوا هلته دپاکستان دولتي چارواکو په افغانستان کې سیاسي موخو ته درسیدو له پاره له تنظیمي لیډرانو دسیاسي رول لوبولو او دروسانو له وتلو نه وروسته دحکومت جوړولو تمه درلوده، خو دا تمه یې سرته ونه رسیده. آی اس آی وخت په وخت تنظیمي لیډران د موقتي حکومت جوړولو ته رابلل، خوکوم حکومت به چې نن د آی اس آی په ټینګار له تنظیمي لیډرانو جوړیده، سبا بیرته ورانیده. علت دا و چې تنظیمونه دقدرت، غنیمت، ولجو او پیسو په ویش نه سره جوړیدل، تضادونه نه پخلا کیدونکی ول او په یوه ایتلافی حکومت کی نه سره ځا ئیدل. دا اختلافونه دځنو تنظیمونو ترمنځ وسلوالو نښتوته ورسیدل چې پکی دیو بل په وژلو او ورسره دټول ولس په ځورولو نه مړیدل. په دې ډول دوخت په اوږدو کې له جهادی تنظیمونو جنایي باندونه جوړ شول.

آی اس آی د ۱۹۹۲ میلادي کال دجون په میاشت کې دوروستي ځل له پاره په اسلام اباد کې د ټولو تنظیمونو په ګډون یو بل موقتی حکومت جوړکړ چې د لومړیو دوه میاشتو له پاره یې حضرت صاحب ښغت اله مجددی او ورپسې څلورو میاشتو له پاره یې برهان الدین رباني د ولسمشرانو په توګه وټاکل او کابل ته یې را ولیږل. حضرت صاحب په دې فاني دنیاکې دفاني ولسمشرۍ په عشق کې اوپه دې مقام کی د لرزیات وخت د پا تې کیدو په تمه دخپل میراثي او دایمي روحانیت نه تیر شو او دروسانو داشغال په وخت کې دهغوی مشهور اجیر عبدالرشید دوستم ته، چې په لوړ ګمان به یې دحضرت صاحب دتنظیم غړي هم په شهادت رسولي وي، دخالد بن

ولید لقب ورکړ. دوستم لا تردې پخوا دبل جنګسالار احمد شا مسعود، دوحدت ګوند، د کارمل له پرچم اوستم سره دملګرو ملتونو تر مشرۍ لاندې دسولې پلان دشنډولو له پاره بل ایتلاف جوړ کړی و اود احمدشا مسعود دیو کوچني ګواښ په وړاندې دحضرت صاحب دولسمشرۍ دخوبونو اوارمانونو نړۍ تبا شوه، په نه زړه، خو دمجبوریت له مخې، له تخته راکوز شو، نه دین شو او نه دنیاشوه.

بالاخره برهانالدی رباني په بې بخته تخت کښیناست اوورسره سم په دې تخت دشمالي ټلوالي اود حکمتیار داسلامي ګوند تر منځ وسلوالو نښتو زور واخیست چې په بهیر کې یې زاړه ایتلافونه ړنګیدل نوي جوړیدل خو جنګونه نه ختمید ل، یوازې دجنګ ماشین چالان و، دلوټمارۍ، وژلو، ورانولو اوبې ناموسۍ بازار تود و، لوټماران او جنګسالاران جنګي جنایتکاران شول، دانسان په حق، پت اوعزت څه پو هیدل. په هغه څه چې په دې وخت کې په ټول هیواد، په تیره بیا دکابل په ښار تیرشوي دي، ډیر څه لیکل شوي دي، زه یې نه تکراروم او دې ټکي ته راځم چې پنجابي جنرالان هم پوه شول چې له اجیرانو یې سیاستوال نه جوړیږي، له سیاسي کلتور نه بې برخې پاتې شول، دحکومت په جوړولو اوچلولو نه پو هیږي او دا وړی وړی پاتې شوی، نه شړی کیږي. لویه ستونځه یې دا وه چې بیله اجیر حکومته پاکستان په افغانستان کې خپلو سیاسي موخو ته نه رسیږي، نوځکه ترۍ ناهیلې او لاس په سرشو.

د شمال ټلوالې د پخوا راهسې دروس اوایران سره پټې او ښکاره اړیکي لرلې او ګډې پروژې یې عملي کولې، خو وروسته هندوستان هم دربانې حکومت دساتلو او په پښو درولو له پاره ډیام وړ مرستې ور ورسولې. دا ځل یې دسیمې ددرې ځواکمنو هیوادو- ایران، روس او هندوستان- په مرسته هم دطالبانو په وړاندې تر خپلې ولکې لاندې سیمې ونشوې ساتلی. په دې حالت کې هم یو له بله نه سره جوړیدل، یو له بله او په ګډه بیا د ټول ولس له قهره ډاریدل. حکمتیار دطالبانو سره له لنډ جنګ نه وروسته د خپل مرکز چار اسیا نه په بیړه پښې سپکې کړې.

د ننګرهار والي حاجي قدیر د پنځوسو طالبانو نه په تیښته شو او ناماڵومې خوا ته یې سترګې پټې کړې او ۲۵۰ طالبانو تورن اسمعیل خان ایران ته په تیښته مجبور کړ. احمد شا مسعود او برهان الدین رباني، مخکې له دې چې طالبان له وریښمین تنګي نه دکابل په لور وخوځیږي، دښاغلي غزیزي په قول« شهر کابل را بدون مقاومت به قصد رسیدن به شمال( پنجشیر) ترک میکند وهستو بود پایتخت را که اقلام عمده آنرا سلاح ومهمات، وسایط نقلیه، اجناس قیمتی وپولهای دولتی بود میبرد».

دپانډونو زوال پیل شو، ورځ په ورځ به ماتید ل، ځني بهرته وتښتیدل، ځني ورک شول او په سمڅو ننوتل او لږ څه چې پاتې ول هم په خپل برخلیک سم پوهیدل. خو بخت یې په دې بیدار و چې د۲۰۰۱ کال دسپټمبر په ۱۱ نیټه په امریکا تروریستي برید وشو. آمریکایان په دې عقیده وو چې دا برید دالقاعده تروریستي سازمان کړی دی او طالبانو دې سازمان ته په خپل هیواد کې ځای ورکړی دی. نو ځکه یې زموږ په هیواد باندې دوسلوال برید له پاره تیارې پیل کړه. په سمڅو ننوتلي او بهر ته تښتید لي جنګسالاران او دهغوی تیت وپرک شوي باډونه یې بیرته سره راټول او منظم کړل اود حامد کرزی تر ولسمشرۍ لاندې یې په ټاکلې چوکاټ کې دولتي واک وروسپاره. دحامد کرزي تر ولسمشرۍ لاندې ددې دولت لاسته راوړنې په کورنیو اوبهرنیو رسنیوکې په لاندې ډول نندارې ته وړاندې کیږي:

۱ – هیروئین: د دې توکي په تولید او تجارت کې دحامد کرزي دولت دنړۍ په کچه لومړی مقام ترلاسه کړ. د

دي چټک پرمختګ بنسټیزلا مل دادی چي لوړ پوړي دولتي چارواکي او زورواکي، ترټولو دمخه دحامد کرزي کورني او د بلخ پخوانی والي عطا نور ترې زیاته ګټه تر لاسه کوي. دچارو کار پوه، یواخیم لورینت، لیکي چي په ۲۰۰۴ کال کې ولسمشر حامد کرزي دبلخ ولایت ته د پولیسو نوی قومندان ورو لیږه ترڅو د عطا نور دهیروئینو قاچاقي کاروانونه ونیسي او ضبط يې کړي. عطا نور خپلی ملیشي تیار سی کړې. کرزی ور پخلا شو او عطا نور یې د بلخ والي مقرر کړ. نن چي دواړه د« سیاسي ګوندونو په لوی ملي ایتلاف» کې یو ځای سره ناست دي موږ نه پوهیږو چي افغانستان ته اوکه دهیروئینو خپل قاچاقي کاروان ته نجات ورکوی.

۲ – فساد: په دې برخه کې دحامد کرزي او دهغه دلوړ پوړودولتي چارواکو دهلو ځلو په برکت فساد نه یوازې د دوی په خوی او عادت او په خصلت بدل شو بلکي ورڅخه نه جلا کیدونکی صفت هم جوړشو. دا په دی مانا چي که دکرزي ددولت دهر لوړ پوړي چارواکي او یا زور واکي نوم اورو نودنوم سره یې دفساد ټکی هم را یادیږي، په فساد عادت شوي په فاسدو کړو نه شرمیږي او داسي ښکاري چي دڅوند تر پایه پوري به فاسد پاتي کیږي. کرزي او دولتي چاروا کویې په لنډه موده کي دخپل دولت څخه د نړی دریمه درجه فاسد دولت جوړ کړ. له دي بې کچي فساد نه دافغان ولس له پاره دا لاندي له له زغمه وتلي ځورونکي پایلي ترلاسه شوي دی.

الف – بیوزلي: لورینت په خپله لیکنه کې چي به ۲۰۱۲ میلادي کال کې خپره شویده زیاتوي چي دبیا ودانولو او داقتصادي پرمختګ په موخه د نړیوالي ټولني دملیاردونو ډالرو دپانګوني سره سره دولتي فساد دافغانستان د اقتصادي پرمختګ لاره ډب کړه. دلته بیوزلي اوبیکاري کمه نشوه. د هغو ۱۸۲ هیوادو په لست کې چي ملګرو ملتونو پکې د خاصو معیارونو له مخې دژوند سطح څیړلي وه افغانستان ۱۸۱ یم ځای تر لاسه کړی و. یاني داچي په ۱۸۲ هیوادونو کې د افغانستان څخه یوازی یو هیواد لا زیات بیوزله وه.

ب – دولتي مفلیسي: چرته چي د دولت لوړ پوړي چارواکي ملیونران او حتی ملیاردران کیږي نو نه یوازې به يې ولس له سختي بیوزلي سره مخامخ کیږي بلکي دولت به يې هم مفلس کیږي. یواخیم لورینت دا هم لیکي چي دکرزي حکومت دپریمانه لس کلنو مرستونه وروسته هم دنړیوالي ټولني نورو مرستو ته هم سترګي په لاردی. یو حکومت چي د خپلي بودیجي یوازی پنځمه برخه دکورنیو سرچینو څخه برابروي او یوازې دهمدې برخي دادری واک لري، د دولت تیوری دمنل شوو اصولو له مخي په هیڅ ډول مستقل او خپلواک حکومت نشي ګڼل کیدای.

وینو چي د حامد کرزي او دهغه د دولت دفاسدو چارواکو او زورواکوله دیارلس کلني حکمراني نه یو فاسد، مفلس، بیواکه، بېوسه دولت اولوټ شوی، ځورول شوی، جګړو او نا امنیو ځپلی بېوزله ملت را پاتی دي. په دي وروستیو کلونو کې چي دحامد کرزي د دولتي ماشین ځني چارواکي له ده سره یو ځای اویا ترده وروسته له دولتي مقامونو لرې کړ شوي دي، دبهرنیو دبې نرخه لورونو هم یوڅه بي برخي شوي دي، نو دفساد سرچینې يې هم پخواني مزه نه لري، یوڅه وچي شوي دي. ښکاري چي دي حالت ډیر پریشان او سرګردان کړي دي. دلته او هلته سره ټولیږي، کوچني ایتلاف چي وران شي، نو بیا له سره لوی ایتلاف جوړوي، د هر اصلاحي ګام په وړاندي منفي غبرګون ښیي، کله د زورنندارتون جوړوي  او کله هم دتیری دبد بې په یاد دغم فریادونه کوي. بیا قدرت غواړي، ځانته حکومت غواړي، لمر په ګوته پټوي او ادعا کوي چي ګوندي جنګسالاران او جنګي جنایتکاران هم سیاسي کلتوراو دحکومت کولو وړتیالري. رښتیا داده چي دا په اصطلاح دسیاسي ګوندونو لوی

ایتلاف په ټوله کې  دهغه بانډونو لنډ مهال اتفاق دی چې په تیر وخت کې په پاکستان او ایران کی روزل شوي اویا دروسانو له خوا  په افغا نستان کې اجیر شوې ول. همهغه پخوانی ترکیب دی، همهغه وسلوالی ملېشې، دقدرت همهغه جزیرې دي. که د دي بانډون ترمنځ د۹۰ یمو کلونو د جګړو اولانجو نه تیرهم شو اویوازې په دې وروستۍ لسیزه کې د عطا محمد نور او دوستم د ملیشو ترمنځ نښتي رایاد کړو نو په ډاډ ویلی شو چې دقدرت په ویش دوستم د نور اونور بیا  دمحقق سره جوړید لی نشي، له دي محلی او قومي ملیشو نه ملي ځواک جوړیدلی نشي او ورځځه دجوړونکي رول تمه در لودل یوه دیوال سره پنځه ځله دسر جنګولو مانا لري. یوازې دوه لارې شته: یا به دهیواد ځلمیان مرکزي حکومت ځواکمن کوي او له دي لارې به فساد او فاسدان تر کنترول لاندې راولي او که وېې نشو کړای نو بیا به دا کار طالبان تر سره کوي.

پای